أحكام الصيام - بشتو

# دروژے احکام




المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

239

تعاوني الزلفي

# أحكام الصيام – اللغة البشتو

# دروژے احكام

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد
وتوعية الجاليات بالزلفي

# أحكام الصيام

أعده وترجمه للغة البشتو
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الأولى: ١٤٣٩/٨هـ

ⓗ المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

أحكام الصيام- الزلفي، ١٤٣٩هـ
ردمك: ٠-٠٦-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨
(النص باللغة البشتو)
١- الصوم أ- العنوان
ديوي ٢٥,٣ ٥ ١٤٣٩/٦٣٥٢

رقم الايداع: ١٤٣٩/٦٣٥٢

ردمك: ٠-٠٦-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# دروژے احکام

## د روژے د نیولو حکم :

د اسلام په پنځو ارکانو کښې یو رکن د رمضان روژے نیول دی، ددے وینا د رسول الله ﷺ د وجے نه: « بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ،وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ » متفق علیه. **ترجمه** :د اسلام پنځه بناګانے دی، د لااله الا الله محمد رسول الله ګواهی کول، د

مانځه پابندی کول، زکات ورکول، د بیت الله حج کول، او د رمضان روژه نیول.

روژه :د الله تعالی د رضا دپاره د صباء صادق نه تر د نمر پریوتو پورے د خوراک څښاک نه او د خپل اهل سره د هم بسترے نه او د ټولو روژه ماتونکی ځیزونو نه الله تعالی ته د خپل ځان د نزدے کولو په نیت باندے ځان وساتلے شی، دیته روژه وئیلے کیږی .د ټول امت پدے خبره اتفاق دے چه د رمضان روژه نیول فرض دی، ددی وجے نه چه

الله پاک فرمائیلی دی:[فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ]{البقرة :١٨٥} ترجمه: څوک چه حاضر شی ستاسونه میاشت درمضان ته نو روژه دِے ونیسی .

روژه نیول واجب دی په هر بالغ، عاقل باندے، د بلوغ علامه داده چه پنځلس کالو ته عمر ورسیږی، یا د نامه نه لاندے ویخته راوټوکیږی، او یا ترے نطفه خارجه شی په احتلام وغیره سره، د زنانه د بلوغ یوه علامه د حیض راتلل

دی، نو هر کله چه یو ددے علامونه موجوده شی نو دغه انسان بالغ دے.

## د رمضان د میاشتے فضیلت :

الله تعالی د رمضان میاشت لره بے شماره خصوصیتونه او خوبیانے ورکړیدي چه بعض د هغے نه دادي :

۱-روژه دار دپاره ملائک بخنه غواړی تر خو چه ئے روژه نوی ماته کړی .

۲- سرکشه شیطانان پکښې تړلے شی .

٣- پدے کښې د ليلة القدر شپه ده چه د زرو مياشتو د عبادت نه غوره ده،

٤- روژه دارو ته د رمضان په آخرى شپه کښې بخنه کيږى.

په هره شپه د رمضان کښې الله تعالى خپل بندګان د اُور نه خلاصوى.

په رمضان کښې عمره کول دحج برابره وى .درمضان نور فضائل هم په احاديثو کښې ذکر دى، لکه په حديث د ابو هريره رضى الله عنه کښې راغلى دى :

**قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا**

**وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»** متفق علیه.(څوک چه د رمضان روژے ونیسی د ایمان سره او د ثواب په نیت، د هغه مخکښني ټول ګناهونه به معاف شی) .بل حدیث کښې راغلی دی : عن ابي هريرة، **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه** وسلم:**«كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِى بِهِ »** ، متفق علیه ترجمه: د هر انسان نیک عمل الله تعالی دوچنده کوی د لس چندو نه تر اُووه سوو چندو پورے الله تعالی

فرمائی : سیوا د روژے نه چه دا صرف زما دپاره ده، او ددے بدله به زه ورکوم .

## رمضان د راتللو ثبوت

د رمضان دراتللوثبوت په دوه طریقوسره کیږی :

(۱) د میاشت په لیدلو سره، چه کله د رمضان میاشت ولیدلے شی، نو روژه نیول فرض شی، د رسول الله ﷺ فرمان دے :إِذَا رَأَيْتُمُ الهِلَالَ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا» متفق علیه ترجمه: کله چه میاشت ووینئ نو روژه ونیسئ

اوکله چه میاشت ووینئ نو روژه ماته کړئ. یعني اختر وکړئ.د رمضان د میاشتے دپاره د یو رشتینی کس ګواهی کافی ده، او د اختر دپاره د دوه عادلانو ګواهی ضروری ده .

(۲) یا دا چه د شعبان د میاشتے دیرش ورځے پوره شی، نو ورپسے ورځ به د رمضان اولنئ ورځ وی، ددے وینا د رسول الله ﷺ د وجه نه : «**فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلاَثِينَ**» متفق عليه. ترجمه: کچرته وریځ شی (د رمضان میاشت پته

شی) نو پوره کړئ شمیر ددیرشو ورځو (د شعبان).

## روژه ماتول د چا دپاره جائز دی ؟ :

(۱) هغه ناروغه انسان چه د صحت امید ئے کیدلے شی، او روژه نیولو کښې ورته مشقت وی، نو هغه له روژه ماتول جائز دی، روستو به بیا قضائی ادا کړی، او هغه څوک چه مرض ئے همیشه او لا علاج وی، د روغتیا څه امید ئے نوی نو هغه معذور دے، که روژے ونه نیسي، البته د روژو کفاره به ورکوی، د یوے

روژے په بدل کښې به يو مسکين ته طعام ورکوي، او يا به نيم صاع غله ورکوي يعني تقريباً (۱.۲۵) پاؤ باندے يو کيلو.

(۲) مسافر د خپل کلي نه په سفر روان شي، واپس خپل کلي ته راتلو پورے روژه ماتول ورله جائز دي، ترڅو پورے چه يو ځائ کښې د قيام اراده ئے نوي کړي.

(۳) حامله ښځه او يا ماشوم ته پئ ورکونکے ښځه هم روژه ماتولے شي، پدے شرط چه خپل يا د ماشوم صحت

ته خطره وی، خو چه مجبوری ختمه شی بیا به قضائي راوګرځوی.

(٤) هغه انسان چه د هغه عمر داسے حد ته رسیدلے وی چه روژه نیول ورته ګران وی، روژه ماتول ورله جائز دی، قضاء وربانده هم نشته، البته د یوے روژے په بدل کښې به یو مسکین ته طعام ورکوی.

**روژه ماتونکی خیزونه:**

١- قصدًا خوراک څښاک کول: البته په هیره بانده خوراک څښاک سره روژه

نه ماتیږی، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :«مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ » رواه مسلم .

ترجمه: څوک چه هیره باندے خوراک څښاک وکړی او روژه دار وی نو روژه دے پوره کړی.دغه رنګه پوزه باندے خیتے ته اوبه تلل یا د رګ په واسطه ګلو کوز یا وینه بدن ته خیژول، او یا هر هغه څیز چه بدن ته دغذاء په طور فائده ورکوی روژه ورسره ماتیږی، ځان ترے ساتل پکار دی .

۲- د خپل اهل سره هم بستري (جماع) کول کله چه روژه دار د خپلے کور ودانے سره همبستری وکړی، نو روژه ئے باطله شوه، کفاره به هم ورکوی او قضاء روژه به هم نیسی، د کفارے درے صورتونه دی :

**۱_ غلام آزادول .**

ب_ کچرته غلام نشی آزادولے نو بیا به دوه میاشتے پرله پسے روژے ونیسی، بغیر د شرعی عذر نه به مینځ کي روژه نه ماتوی، مثلًا د اختر په ورځو یا د مرض

وغیره په صورت کښې روژه ماتولے شی، بغیر د شرعي عذر نه که یوه ورځ هم روژه ماته کړی، دوباره به د سرنه شروع کوی.

ت_ که د دوه میاشتو روژو وس نه لری، نو بیا به شپیتو (٦٠) مسکینانو ته طعام ورکړی.

٣- قصدًا د بدن نه نطفه خارجه شی لکه د خپل اهل سره لوبے کول یا بلے طریقے سره نطفه خارجه کړی، نو روژه ورسره ماتیږی، قضاء به راوړی، کفاره

وربانددے نشته، البته احتلام باندے روژه نه ماتیږی، ځکه هغه بے ارادے وی.

٤-حجامه کول یعنی د بدن نه وینه ویستل : د حجامے په صورت کښې، یا وینه ورکولو سره روژه ماتیږی، البته د ټیسټ دپاره لږه وینه ورکولو سره روژه نه ماتیږی، او یا غیر اختیاری وینه خارجه شی لکه د پوزے نه، یا د زخم نه یا د غاښ وغیره نه، نو روژه ورسره نه ماتیږی

٥-قصدًا قيئ كولو سره : البته كچرته غير اختياری وی نو بيا روژه ورسره نه ماتيږی .دے ذكر شوی څيزونو سره روژه ماتيږی، ترسو پورے چه اراده او قصد ورسره ملګرے وی ځکه چه په خطاء سره يا په ناپوهتيا سره او يا په هيره سره روژه نه ماتيږی.

٦-روژه ماتونكي څيزونو كښې د حيض او نفاس وينه خارجيدل هم داخل دی، هركله چه زنانه وينه ووينی نو روژه ئے ختمه شوله، د حيض يا د نفاس والا

زنانه دپاره روژه نیول حرام دی، البته بیا به ئے قضائی راوړی .

**هغه څیزونه چه روژه ورسره نه خرابیږی:**
غسل کول، لامبو وهل، یا ګرمئ کښې اُوبو باندے ځان لوندول .۲- د صبا د راختلونه مخکښې د شپے خوراک څښاک او هَم بستری کول جائز دی .

۳-د مسواک استعمال د ورځے هر وخت کښې روژے ته څه نقصان نه رسوی بلکه مستحب عمل دے .د حلال دوائي استعمال پدے شرط چه غذاء نوی

ددے وجي نه (انجکشن)ستنه چه غذائیت پکښې نوی جائز ده، لیکن شپے ته روستو کول بهتره دی، سپرے وهل یا د طعام نه خکه کول پدے شرط چه د مرئ نه لاندے تیر نشی جائز ده، دغه رنګه د خوشبو استعمال یا خوله او پوزه کښې اُوبو اچولو سره روژه نه ماتیږی مګر ډیره مبالغه به پکښې نشی کیدلی .د حیض او نفاس وینه که د شپے بنده شي، نو غسل سهار ته روستو کول جائز دی، او دغه حکم د جنب

هم دے چه حالت د جنابت کښې
پیشمنے وکړی، او سهار غسل وکړی .

تنبیهات :

۱- کچرته یو کافر درمضان په ورځ کښې
اسلام راوړی نو باقی ورځ به خوراک
څښاک نه کوی، او د دغه ورځے قضاء
ورباندے نشته دے .

۲- د صبا د راختلونه مخکښې د شپے
هره حصه کښې د روژے نیت کول
ضروری دی، دا حکم د فرضی روژو
دپاره دے، او د نفلی روژو نیت د نمر د

راختلونه پس هم کیږی چه خوراک ځنباک ئے نوی کړی .

۳-روژه دار دپاره د روژه ماتی په وخت کښې ډیرے دعاګانے غوښتل مستحب دی، ځکه چه حدیث کښې راغلی دی :«**إِنَّ لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ لَدَعْوَةً مَا تُرَدُّ** » .ابن ماجه.ترجمه : د روژه دار د روژه ماتی په وخت کښې دعاء نه رد کیږی . خاصکر د روژه ماتی دعاء حدیث کښې ذکر ده :« **ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ** » ابوداؤد. ترجمه:تنده ختمه شوله،

رګونه لوانده شول، او که الله وغواړی نو اجر هم حاصل شو

٤-د رمضان د راتللو خبر چه د ورځے په مینځ کښې راشی نو باقی ورځ به خوراک څښاک نه کوی او ددے ورځے قضاء به هم راګرځوی .

٥-د چا په ذمه چه د رمضان روژے پاتے وی باید چه تلوار پکښې وکړی اګر که روستوالے پکښې جائز دے او ترتیب پکښې هم شرط ندے، بغیر د عذر نه د بل رمضان پورے روستو کول پکار ندی.

## د روژے سنت:

۱-د پیشمنی خوراک کول، حدیث راغلی دی :(تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَة) متفق علیه .ترجمه : پیشمنی کوئ یقینا په پیشمنی کښې برکت دے،په پیشمنی کښې آخر د شپے ته روستوالی کول سنت طریقه ده، حدیث کښې راغلی دی : ((لاَ تَزَالُ أمتي بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ واخروا السحور)) صحیح الجامع .ترجمه:همیشه به زما امت په خیر باندے وی ترڅو چه ځکښې والے کوی روژه ماتی کښې، او روستوالی پیشمنی کښې کوی .

۲-د روژه ماتی صحیح وخت د نمر پریوتلو وخت دے. روژه په کهجورو ماتول افضل دی، که کهجورے نوی، بیا اُوبو باندے او که اوبه هم نوی بیا که هر شی د خوراک میلاؤ شی، روژه پرے ماتول پکار دی .د روژه دار دعاء هر وخت کښې خاصکر د روژه ماتی په وخت کښې ډیره ښه قبلیږی، حدیث کښې راغلی دی :قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلاَثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لاَ شَكَّ فِيهِنَّ دَعْوَةُ الْوَالِدِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُالْمَظْلُوم".ترجمه:درےقسمه دعاګانے

ډیرے ښے قبلیږی، دعاء د روژه دار، دعاء د مسافر او دعاء د مظلوم . د رمضان په شپو کښې قیام اللیل (تراویح) کول ضروری عمل دے،حدیث کښې راغلی دی : «**مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ**». متفق علیه .ترجمه: چا چه د ایمان سره د اَجر دپاره د رمضان قیام وکړو مخکښني ګناهونه به ورته معاف شی .غوره دا ده چه د امام سره وکړے شی، ځکه چه حدیث کښې راغلی دی : «**مَنْ قَامَ مَعَ الإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ ، كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ**» .

رواه اهل السنن. ترجمه: چا چه قیام وکړو د امام سره ترد ے پورے چه امام راوګرځی وبه لیکلے شی دده دپاره ثواب د قیام اللیل .او دغه رنګه ډیرے صدقے کول، او د قرآن کریم تلاوت ځکه چه رمضان شهر القرآن ده، د قرآن کریم لوستونکی ته په یو حرف یوه نیکی میلاویږی او یوه نیکی په لس چنده ده .

## تراویح

د رمضان په میاشت کښې د شپے په جمعے سره مونځ کولو ته تراویح، قیام اللیل

او تهجد وغیره وئیلے شی ددے وخت د ماسخوتن نه واخله تر د صبا د راختلو پورے دے، په احادیثو کښې دیته ډیر ترغیب ورکړے شویدے، سنت پکښې یولس (۱۱) رکعاته دی چه په هرو دوه رکعاتو باندے سلام وګرځولے شی، او که د یولسو (۱۱) رکعاتونه زیات وکړے شی، نو څه نقصان پکښې نشته دے، او خائسته والے او اُوږدوالے پکښې پکار دے، خو چه په مونځ کونکو باندے مشقت نوی، زنانه ورته هم مسجد ته

حاضریدلے شی خو چه فتنه نوی او خپل ستر او پردے اهتمام کولے شی .

## نفلی روژے

رسول الله ﷺ نفلی روژو ته هم ډیر ترغیب ورکړیدے چه په لاندینی ډول دی

۱= شپږ روژے د شوال د رمضان نه پس حدیث کښې دی :«**مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ** » رواه مسلم.ترجمه : چا چه د رمضان روژے ونیولے او ورپسے د شوال شپږ روژے ونیولے، دا پشان د ټول کال د روژو دی .

۲= هفته کښې دوه ورځے د ګل ورځ (پیر) او د زیارت ورځ (جمعرات) باندے روژه نیول سنت دی.

۳= هره میاشت کښې درے ورځے روژے نیول افضل دی، که د ایام البیض ورځے وی، دیارلسمه (۱۳) څوارلسمه (۱٤) پنځلسمه (۱۵) او که نورے ورځے وی .

٤= د عاشورے د ورځے روژه د محرم د میاشتے د لسمے ورځے روژه ده، او مستحبه دا ده چه یوه ورځ ترے مخکښې او یا یوه ورځ روستو روژه ونیولے شی :قال

رسول الله ﷺ : **وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ»**. رواه مسلم. ترجمه: رسول اللهﷺ فرمائيلی دی : د عاشورے د ورځے روژه نيول زه اميد ساتم د الله تعالي نه چه د يو كال مخکني ګناهونه وريژوی .

٥= د عرفے د ورځے روژه چه د ذی الحجے د نهمه ورځ ده، حديث کښي راغلی دی :**صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ،** رواه مسلم. ترجمه: د عرفے د ورځے

ورژه نيول (نبی کريم صلی الله عليه وسلم) فرمائي : زه د الله نه اميد کوم چه يو کال مخکښنی او يو کال وروستنی گناهونه وورېژه وی .

## هغه ورځی چه هغے باندے روژے نيول حرام دی :

١= د اختر ورځے ورکوتی اختر او لوئي اختر.

٢= د ذی الحجے يولسمه، دولسمه او ديارلسمه ورځ باندے چه ايام التشريق ورته وائي، روژه نيول حرام دی .

۳= د حیض او د نفاس په ورځو کښې روژه نیول حرام دی .

٤= د ښځے نفلی روژه د خاوند د اجازت نه بغیر چه خاوند ئے حاضر وی . حدیث کښې راغلی :«**لا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلا بِإِذْنِهِ فِي غَيْرِ رَمَضَانَ**». متفق علیه. ترجمه: روژه به نه نیسی یوه ښځه چه خاوند ئے حاضر وی مګر په اجازه د هغه باندے سیوا د رمضان نه

وبالله تعالى التوفيق .

# فهرست درو‌ژے احکام


| | |
|---|---|
| درو‌ژے د نیولو حکم | 3 |
| روژه | 4 |
| د رمضان فضیلت | 6 |
| د رمضان د راتللو ثبوت | 9 |
| د چا دپاره روژه ماتول جائزدی | 11 |
| کمو کارونو سره روژه ماتیږی | 13 |
| کمو کارونو سره روژه نه ماتیږی | 14 |
| تنبیهات | 21 |
| درو‌ژے سنت | 24 |
| تراویح | 28 |
| نفلی روژے | 29 |
| روژه نیول په کمو ورځو کښې منع دی | 33 |